مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه‌ولی ارین
۲۰۲۶/۰۳/۱۳

# د پاکستان کرايي پوځ

## (پنځمه‌برخه)

ټولي نړۍ ته معلومه ده چي افغانستان د پاکستان له پیداینته ډېر وړاندې ستر زبرځواک قدرتونه مات کړي او په ډېره بې شرمۍ يې له هېواده شړلي دي. د پاکستان له جوړېدو وروسته هم افغانانو شوروي يرغلګرو او د امریکا، ناټو اشغالګرو ته يې تاریخي ماتي ورکړي دي.

دا چي باتورو افغانانو د تاریخ په اوږدو کي د پاکستان د اجیر کرايي پوځ بادارانو ته تاریخي ماتي ورکړي نو د هغوي دا ذلیل او کرايي غلامان خو ورته هيڅکله د ټينګيدو زور او توان نه لري.

دغه اجیر پوځ داسي سوچ کاوه چي طالبان نه منظمه اردو لري او نه هوايي ځواک، نو ځکه يي ترامپ ته سینه وډبوله چي د هغه ِغوښتني به ډېر ژر پوره کوي، نو ځکه يي د پاکستاني طالبانو موجودیت او کمپونه په افغانستان کي بانه وګرزوله، تر څو خپل ولس هم غافل کړي او هم نړیوالو ته ځان په حقه ثابت کړي.

د پنجاب جابر حکومت او پوځ په لومړی قدم کي پر افغان مهاجرینو د نړیوالو ټولو موازینو پرته په زرګونو افغان کډوال په زور او جبر ویستلو ته اړویستل، له دغو مهاجرینو سره يي داسي چلند تر سره کړ چي نه بشري نه انساني او نه اسلامي اصولو سره برابر و. دغه وضعیت د دې له پاره تر سره شو تر څو پر طالبانو اقتصادي فشارونه ورزیات کړي. خو په دغه رابطه د هېواد د ننه او له هېواده د باندې افغانانو خپلو هر ډول مرستو ته دوام ورکړ تر څو په حکومت ډېر فشار را نه شي.

د پاکستان د اجیر کرايي پوځ دوم ګام هوايي بریدونه وو، چي د نړیوالو قوانینو خلاف يي د افغان هوايي حریم نقض کړ، پر پکتیا، ننګرهار او کابل يي بمونه وغورزول. وروسته کله چي د جابر نظام د غیر عادلانه سیاستونو په مقابل کي د پاکستاني طالبانو بریدونو زیاتوالي و موند، یو وار بیا پاکستان د فبروری په ۲۲مه، د افغانستان پر خاوره بریدونه وکړل او په ننګرهار او پکتیکا ولایتونو کي يي ځيني موخي وويشتي چي له امله يي یو شمېرملکي کسان ووژل شول. اسلاماباد دا بریدونه د پاکستان د طالبانو د تحریک د پټن ځایونو پر وړاندې هدفي عملیات وبلل، حال دا چي د دوي دغه تور کاملا بې ځایه و او په وژل شوو کسانو کي يو هم پاکستاني طالب نه و بلکي ټول ملکی افراد د ښځو او ماشومانو په ګډون شامل وو. د کره معلوماتو له مخي يوازې د ننګرهار د ګردي کڅ په کلي کي يوې کورنی د خپلو ۲۳ غړو څخه ۱۸ تنه په دې بریدونو کي له لاسه ورکړي وو. چي ملګرو ملتونوهم په دغو بریدونو کي د ملکي کسانو مرګ ژوبله تائید کړی ده.

د پاکستان د دغو بریدونو په ځواب کي افغان سرتیرو او قهرمانانو د لومړي ځل له پاره د پاکستان اجیر پوځ ته داسي کلک ګوزارونه ورکړل چي هیڅکله دوی ته د هېریدو نه دي.

په اوسنی روانه جګړه کي هم دوی درانه زیانونه ولیدل او لا يي هم ويني. د وروستيو معلوماتو له مخي افغان ځواکونو د فرضي کرښي په نږدې ټولو استقامتونو کي د توپچي، لیزري او پیاده ځواکونو پرمټ د پاکستان د پوځي رژیم پر پوستو او نظامي تاسیساتو پراخ بریدونه کړي او د پام وړ مرګ ژوبله يي ور اړولي ده. همدارنګه دغو هوايي بریدونو کي افغان بې پیلوټه الوتکو د اسلام اباد، ابټ اباد او د پاکستان په نورو لويو او مهمو ښارونو کي ټاکلي نظامي اهداف په بریالیتوب سره تر سره او په نښه کړي دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

دا حقیقت دی چې افغان لوری هیڅکله جګړه نه غواړی، خو دغه جګړه د پاکستان له لوري پر افغانانو تحمیل شوه، خو یو ځل بیا افغان قهرمانانو د پاکستان ظالم رژیم او کراچي پوځ ته وښوده چې د دوي جګړه ایز سوچ سم او پر ځای نه و، د دوی فکر او ډاډ د دواړو هېوادو د نظامي انډول ځمکني او هوایي ځواکونو

په تناسب په نظر کې نیول شوي و، دا حقیقت دی، چې دوي په دغه برخه کې برتري لري، خو جګړه یوازې په برتري او زیات قووت بریالیتوب نه شي تر لاسه کولای، بلکې بری قوي عقیده، ایمان، پر ځان باور او هېواد پالنه بریالیتوب ته رسولای شي، چې پاکستاني ځواک له دغو ورتیاوو نه محروم دی.

په لومړۍ پیل شوې جګړه کې د دیورند د فرضی کرښې په ځینو برخو کې د پاکستاني پوستو نیولو د سرتیرو وژل او ژوندي نیول پاکستان دې ته اړویستل تر څو د قطر او ترکیې هیوادونو په منځګړیتوب د خبرو اترو له لارې خپلې ناروا غوښتنې پر طالبانو تحمیل کړي، خو په مذاکراتو کې د پاکستان د غیر قانوني وړاندیزونو له امله مذاکرات بې نتیجې پای ته ورسیدل.

د افغانستان او پاکستان په دغه جګړه کې دواړو خواوو ته مرګ ژوبله او زیانونه رسیدلي دي. د پاکستان پوځ منلي چې د ډیورنډ کرښې سره اوړدو کې پر پوځي پوستو د افغان طالبانو بریدونو کې ۱۲ سرتېري وژل شوي، او ۲۷ نور ژوبل شوي دي.

د کراچي پوځ ویاند احمد شریف چودري په یوه خبري کنفرانس کې د درواغو په بنیاد وویل چې:

«دوي د طالبانو د بریدونو په ځواب کې په افغانستان کې دننه ۲۲ پوځي موخې په نښه کړې،چې ۲۷۴ طالبان او اورپکي یې وژلي دي.»

د دوي د دغو ادعاوو په مقابل کې د طالبانو د حکومت د ویاند په وینا:

«دوی د پاکستان ۵۵ پوځیان وژلي، دوي اډې او ۱۹ پوستې یې نیولې دي. ذبیح الله مجاهد د پاکستان ادعا رد کړه، او ویې ویل چې د دوی ۱۳ کسان وژل شوي او ۲۲ تنه ژوبل شوي دي. هغه زیاته کړې چې د پاکستان پر پلازمېنې اسلام اباد او یو شمېر نورو ښارونو کې پر نظامي تاسیساتو د ډرون موثر بریدونه یې تر سره کړي دي چې ډېر مالی او ځاني زیانونه یې ور اړولي دي.»

د طالبانو د حکومت دفاع وزارت ویلي:

«دغه هوایي بریدونه یې اسلام اباد، نوښار او ابېټ اباد کې تر سره کړي دي.»

د طالبانو حکومت ویاند ذبیح الله مجاهد په کندهار کې یوه خبري کنفرانس ته وویل:

«جګړه دوي نه ده پیل کړې، او که بیا پرې ګوزارونه وشي، بیا به هم متقابل ځوابي ګذارونه ورکړي.»

حقیقت خو دا دی، که چېرې بیا هم پنجابي واکداران د خپلو تېروتنو لاره تعقیب کړي، نو پایله به یې خپله پوځي رژیم ته درانه زیانونه واړوي. د زور ژبه، پر افغانستان د خپلې ناکامیو تپل او د ګاونډیتوب له اصولو وتل هېڅکله پاکستان له روان کړکېچه نشي ژغورلی. له دې کړکېچه د وتلو له پاره اړینه ده چې پوځي رژیم په خپلو ناسمو پالیسیو او سیاستونو له سره بیا کتنه وکړي او د واقعیتونو پر بنسټ پاکستاني عوامو سره د مساوی حقونو پر بنیاد او شاوخوا ګاونډیو سره د ښه کاونډیتوب پر اصولو او متقابل احترام خپله کړنلاره غوره کړي، کنه پوځي جرنیلان باید په دې پوه شي چې د افغان خاورې او ولس پر وړاندې هر غیر قانوني عمل به داسې عکس العمل ولري چې دوي یې هیڅ تصور ونه شي کولای.

نوربیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ